مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال
۲۰۲۳/۰۷/۱۶

# د تکفیر تولنیو هنه

# (۳)

تکفیر، په تېره بیا د سیاست په برخه کې، نور د هغو ټولنیزو اصطلاحاتو موزیم ته سپارل شوی، چي خلک یې یوازې پر تاریخي روایتونو د پوهېدو لپاره پېژني.

ولې؟

ځکه بشریت اوس پوهېدلی دی، چي ټولنیز حقایق له زمان او مکان سره توپیر مومي.

اعلیحضرت امان الله شاه غازي چي د کومو هڅو لپاره پرخپل مهال تکفیر شو، اوس خلک هغه هڅې کفر نه بولي. په تېرو شلو کلونو کې د افغانستان ټولو خلکو پوهنه و ښوونځي غوښت، خپل اولادونه یې لوړو زدکړو ته بهر استول، بانکي تعاملات یې مهم ګڼل، په تذکره کي یې عکس نښلول عادي ګڼل او راډیو چا د شیطان صندوقچه نه ګڼله. ریل یې د کفارو وسپنیز ښامار نه باله او ټولو خپل ناروغان هغو ډاکټرانو ته وروستل، چي سل سلنه یې د بیولوژۍ او کیمیا پر علومو تکیه کوله، نه د زعفرانو په اوبو پر کښل شویو لړمیو.

اوس تلویزیوني معاینات تاسو ته په ښو ښېبو کي وایي، چي د یوې مېرمني په ګېډه کي ماشوم نرینه دی که ښځینه. که د شاه امان الله پرمهال دا خبره هرچا کړې وای، نو مشرک ګڼل کېده، ځکه هغه مهال دا وینا د خدای په چارو کي لاسوهنه ګڼل کېده. خو اوس د هغو تکفیري شیخانو لمسیان هم خپلې مېرمني الټراساوند ته وروليي، چي پوه شي راتلونکی ماشوم یې هلک دی که نجلۍ؟

حقایق د انساني پوهي د شعاع له پراخېدو سره بدلیږي، پرونی تکفیر ننني ساینس دی او د نن ورځې ډېرې داسي خبرې چي شیخان به یې کفر ګڼي سل کاله روسته به د ورځې پر عادي خبرو بدلې شوې وي.

په تکفیریانو کي هیچا دا جرئت ونه کړ، چي په زغرده ووایي:

ولي پینځه ویشت کاله مخکي په افغانستان کي عکس ګناه او ویډیو کفر ګڼل کېدله، خو نن هماغه تکفیریان خپلې فتواوې د ویډیوګانو له لارې خپروي؟

په ټولنه کي باورونه له دوديزو بدلونونو سره هم بدلیږي؛

د محمدنادرشاه تر زماني افغان نارینهوو کمرچین کمیس ( ګرده ګېډۍ لمن) او ګیبي پرتګونه اغوستل. دوه اړخونه ته خاک لرونکي کمیسونه له هیندوستان څخه راغلیو سوداګرو دود کړل ( په هیندوستان کي دواړو غاړو ته خاک اقلیمي اړتیا وه) خلکو، په تېره دوډپالو، دغه خاکلرونکي جامي سپکي او پردۍ ګڼلې، ځینو یې اغوستل له کفارو سره مشابهت باله... خو نن ګرد کمرچین کمیسونه نهشته او موږ دا خاکونه ښه اوړده کړي دي، ملي او اسلامي لباس یې ګڼو، له تاریخه یې خبر نه یو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

د تکفیر افیون د وخت له تېرېدو سره خپل اغېز له لاسه ورکوي، ځکه ټولنه د یوه ژوندي ارګانیزم په توګه د ویښتیا او روښانتیا په مرسته له خرافاتو لرې کیږي.

د تکفیریانو لپاره بله ربړه دا ده، چې د معلوماتو د تولید بهیر اسانه او چټک شوی دی. د هر وګړي په جیب کې [ یا لږ ترلږه په هره کورنۍ کې یو] داسې تیلیفون خامخا شته، چې د هرڅه په اړه په څو شېبو کې د (ریښتیا څه دي؟) په ځواب کې معلومات تولیدوي.

د زړو انګریزي جاسوسانو له خوا تولید شوي خرافي روایات د ژوندیو او جاري- علمي معلوماتو ځای نیولای نه شي.

د اروابناد نصیر احمد احمدي د (بغدادي پیر) ناول یو ادبي ارزښت دی. د اماني زریني دورې په اړه د روښانتیا او خرافاتو د جګړې په برخه کې تر دغه ناول هاخوا دومره مستند او مستدل متون خپاره شوي دي، چې که څوک اوس هم د غازي امان الله تکفیر د انګریزانو دسیسه نه ګڼي، نو په خپله ساده‌ګۍ پورې به خاندي.

زموږ ستونزه دا ده، چې په یویشتمه پېړۍ کې ژوند کوو، خو د دویمي هجري پېړۍ* زمانه په خوب کې وینو. خوب لیدل بده خبره نه ده، خو که غواړې شاوخوا ویښ وګړي دې خامخا ستا پر خوب ایمان راوړي، نو خبر شه، چې بیخي ناوخته ده او لمر د اسمان پر تندي روڼ ځلیږي.

---------------------

*له دویمي هجري پېړۍ موخه دا ده، چې له همدې مهاله ورو ورو د خلافت کارځایونو د دین له دریځه د واکساتنې و واکغوښتنې په پار د جعلي، خرافي او ناسمو روایاتو چټک تولید پیل کړ او هڅه یې دا وه، چې د دیني متونو په نوم یې پرخلکو ومني.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ